# باچاخان او دَ هغهٔ تربیه شوي کردارونه

(دوېمه برخه)

نورالامین یوسفزے

زمونږ دَ کلي خدائي خدمتګار امیرنواس سېکرټري یو ځل ماته وې چې یوه ورځ مې باچاخان په زړهٔ ډېر راووربېد او اتمانزو ته روان شوم چې هلته ورسېدم نو خبر شوم چې بابا پټي کښې دے، زهٔ هم ورپسې پټي ته لاړم، بابا په پټي کښې سره خوروله، زمونږ طریقه دا وه چې باچاخان به څهٔ کار کولو نو مونږ به هم دَ هغهٔ په اقتداء کښې هغه کار شروع کړو، ما هم دَ پټي دَ بل سر نه سره خورول شروع کړل او چې څنګه زهٔ او بابا دَ یو بل خوا ته راورسېدو نو هم دغه وخت په زمکه پروت ریډیو باندې خبرونه شروع شول او دا اعلان پکښې وشو چې ایوب خان مارشل لاء ولګوله ، بابا چې څنګه دا خبر واورېد نو اول ئې خپل لاسونه وڅنډل او بیا ئې ماته په ډېر افسوس ووې "مېرنواسه ډېر بد کار وشو، پوځ سیاست ته راننوت او دے اوس هېڅکله هم نهٔ وځي، دَ بابا دغه وړه غوندې جمله په نظر کښې وساتئ او بیا دَ خپل ملک په تېر سیاسي ژوند یو ځغلنده نظر واچوئ.

کله چې باچاخان په اسمبلۍ کښې حلف اوچت کړو نو یو اوږد تقریر ئې کړے وُ، په دغه تقریر کښې هغهٔ دا خبره ډېره په واضحه ټکو وکړه چې پاکستان یو حقیقت دے، دا اوس زما هم ملک دے او بیا ئې ناستو جاګیردارانو ته مخ راواړولو، وې زما قام رضا کړئ، دَ تشدد په ځائے دَ امن او عدم تشدد لاره خپله کړئ، دا ملک دَ غریبانانو ملک دے نو تاسو فضول خرچۍ پرېږدئ، ګني ستاسو دغه رویه به دَ دې ملک اقتصادیات تباه کړي، راځئ چې په شریکه ئې سم جوړ او آباد کړو. کهٔ دا وخت سړے دَ بابا دَ عدم تشدد او سادګۍ دغه فلسفه او پېغام مخې ته کېږدي او دَ نن نه شپېتهٔ کاله په شا لاړ شئ او دَ پاکستان ابتداء هم په دغه فلسفه وکړي نو تاسو فکر وکړئ چې حالات به څنګه وي، خو کاش چې دَ وخت واکدارانو دَ بابا دغه خبره منلې هم وے او عمل ئې پرې هم کړے وے.

ماته ښهٔ یاد دي چې کله مونږ ځوانانو دَ ایم آر ډي تحریک دَ لاندې دَ ووټونو بائیکاټ ته خلق جوړول نو دَ وطن اکثرو سپین روبو په ووټونو کښې برخه هم اخستې وه او خپله پکښې خلق ووټ ته هم ودرېدلي وو .

زمونږ دَ کلي ځنې سپین روبي چې کله دَ کلي یو ضعیف العمر خدائي خدمتګار کپتان جمعه خان ته راغلل او ورته ئې ووې چې بابا وائي ووټ دې واچوي، هغهٔ ورنه تپوس وکړو چې دا تاسو څنګه وایئ هم دغه شان باچاخان هم وئیلي دي نو هغوی وې چې هو هم دغسې ئې وئیلي دي، دَ دې په جواب کښې جمعه خان بابا ووې چې نهٔ تاسو دروغ وایئ، زهٔ ووټ نهٔ استعمالوم ځکه چې بابا به تاسو ته وې چې کپتان صبب دې دَ خپلې رایې حق استعمال کړي.

ځۀ موده مخكښې ما ته دَ لاهور كلي يو سپين ږيرے دفتر ته راغے، ګړه بړه وشو، هغه لږ ساعت غلے ناست ؤ، بيا ترې ما دَ راتلو سبب وپوښتلو نو هغۀ ووې چې ما په ډيوه ربړيو ستا خبرې اورېدلې وې، ستا خبرې مې خوښې شوې، زۀ دَ باچاخان سپاهي يم نو ستا ليدو له راغلم. ما ترې دَ بابا په حقله پوښتنه وكړه نو هغۀ وې زۀ به دغه دَ لسو، دولسو كالو وم دَ خپل كلي نه بهر مې څاروي څرول، دا دَ پېرنګيانو اخري وختونه وو، زمونږ دَ كلي نه بهر يو كوهے ؤ، دَ كوهي په غاړه يوه ګُوره ببره وه، زۀ اوبو څښلو او دمې له دَ كوهي غاړې له راغلم، هم دغه وخت يو څو مشران دَ كوهي خواته راغلل، هغوي كښې يو دنګ لوړ مشر ؤ، هغۀ خپلو ملګريو ته ووې چې دلته به دمه هم وكړو او ډوډۍ به هم وخورو، ځكه چې كۀ دې كلي ته بې ډوډۍ ورغلو نو دغه خلق به رابانديې ډوډۍ خوري، لږ بې وخته شوے دے په تكليف كېږي به، كۀ مونږ ورته دروغ وايو چې ډوډۍ مو خوړلې ده نو دا هم ښه خبره نۀ ده، او بيا ئې دَ ترخ نه يو زوړ تيكړے راووېست او يوه دوه وچې ډوډۍ ئې ترې راوباسلې نورو ملګريو چې خپل مشر ته وكتل نو هغوي هم خپله خپله ډوډۍ راواخسته او دغه مشر بوقې ته لاس كړو. يو ملګرے راوړاندې شو، وې باچاخان زۀ به اوبۀ راوباسم خو هغۀ ورته ووې چې تاسو ټولو په لاره يو كار كړے دے او اوس زما نمبر دے او بيا ئې اوبۀ راوباسلې او هغوي ته ئې ووې چې كۀ ډوډۍ مو كلكه شوې وي نو په اوبو كښې ئې خوشته كړئ او خپله ئې هم دغسې وكړل او دَ خپلې ډوډۍ نه ئې نيمه وخوړه نيمه ئې ماله هم راكړه. زۀ ورته حق حېران وم. ما ترې تپوس وكړو چې بابا تاسو څوك يئ، نو يو كس راته ووې چې دا باچاخان دے، خدائي خدمتګار دے او مونږ ئې ملګري يو. هغۀ راپاڅېد او زما په مخ ئې خپل دواړه لاسونه ډېر په مينه راښكل وې بچے خدائے دې لوئے كړه چې تۀ هم سبا له دَ خپل قام خدمت كوې او بيا لاړ او دغه شان زۀ په دغه بابا مئين شوم.



اجمل خټك صاحب راته وې كله چې امام خميني په ايران كښې انقلاب راوستو نو بابا ورته زما په لاس په فارسۍ كښې يو خط وليكۀ او په دغه خط كښې ئې ورته وليكل چې امام صيب انقلاب دې مبارك شه خو ياد ساته چې په داسې موقعو اكثر خلق تشدد ته لاس واچوي نو تۀ دَ مكې فتح راياده كړه او خپل ملګري پوهه كړه چې دَ تشدد او انتقام نه ډډه وكړي خلق معاف كول او ابادول لويه خبره ده، دَ مينې او امن لاره خپله كړئ.

يو ځل يو اخبار واله دَ بابا نه دَ بې نظير بوټو په حقله پوښتنه وكړه، دَ سوال په جواب كښې ورته بابا بس دا يوه جمله ووې "بے نظير ايک بهادر بچى هے".

او تاریخ دا ثابته کړه چې بې نظیره په حقیقت کښې بهادره وه.

تاریخ ګواه دے چې کله افغانستان کښې دَ روس او امریکې جنګ تود شو او زمونږ ځنې عالمانو دغه جنګ ته دَ کفر او اسلام جنګ ووې نو بابا ډېر په واضحه ټکو ووې چې دا دَ کفر او اسلام نۀ دَ دوو سنډاګانو جنګ دے، دَ زر او زور جنګ دے او پښتانۀ به پکښې هېڅ بې هېڅه دل شي او کله چې یو طاقت بریالے شي نو بیا به ترې ټوله دنیا اور کښې ولاړه وي. بابا دا هم وئیلي وو چې برژنیف هم ډېر غلط کار وکړو او دا زخم به ئې په ناسور کښې بدل شي.

دا او داسې بلا خبرې دي چې باچاخان په وخت او سم د لاسه دَ ملکي او بین الاقوامي حالاتو، حادثاتو او واقعاتو په حقله کړې دي او دغه خبرې وخت او حالاتو ټکي په ټکي صحیح ثابتې کړې دي. دَ دې سره سره چې هغۀ دَ خدائي خدمتګارو په کوم انداز او دَ کوم معیار سیاسي او سماجي روزنه کړې وه، په ځومره هنر ئې په پښتنه ټولنه کښې دَ پښتون او کسب ګر جنګ ختم کړے ؤ او دا احساس ئې ورکړے ؤ چې تاسو ټول پښتانۀ یئ، بیا ئې دغه کسب ګرو له په تحریک کښې غټې غټې ذمه وارۍ ورکړې وې، دا ځان له یوه بله موضوع ده البته دَ بابا دَ تربیت په انداز او دَ هغۀ دَ تربیه شوو خلقو په سیاسي بصیرت ځو خبرې کول ضروري دي.



کله چې پاکستان او هندوستان اټمي چاؤدنې وکړې نو ما دَ خدائي خدمتګار اکرم بابا نه پوښتنه وکړه چې بابا تۀ په دې حقله ځۀ وائې؟ هغه مسکے شو وې بچے یو چرګ په ډېران کښې پنجې وهلې، ناځاپه ئې په شا لال لړه کړو، خوا کښې لکه زما یو کتہ سرے بابا ناست ؤ، چرګ ته ئې ووې وه چرګه تۀ په ډېران کښې نور ځۀ ګورې، دَ لال نه به پکښې قیمتي ځۀ وي، چرګ بابا ته مخ راواړولو او خپله پنجه ئې ججوري ته ونیوله وې بابا زۀ په لال ځۀ کوم زۀ خو وږے یم، ججوره مې خالي ده ماله خو دَ غنمو دانه پکار ده، دَ هندوستان او پاکستان اولس له خو ډوډۍ او جامه پکار ده، بمونه نا.

یو ځل راته دَ خپلې سیمې یو ناخوانده خدائي خدمتګار ووې چې هټلر کله په روس حمله وکړه نو بابا مونږ ته وې ازمرې په هاتي حمله وکړه خو زمرے به خراب کړي، دغه وخت بابا دا هم ووې چې کۀ هټلر دا کم عقل توب نۀ وے کړے او سټالن له ئې کونجي ورکړې وے نو دنیا ته به ئې یو بل شان تاریخ پرېښودے ؤ.

د پنج پیرکلي سلیم خان ایډوکیټ وائي چې باچاخان په جون ۱۹۸۳ء کښې صوابۍ ته راغلے ؤ، ما ورته درخواست وکړو چې شپه به ما سره کوې او هغۀ زما درخواست قبول کړو. دَ زېدې عبدالعزیز خان کاکا هم ورسره پاتې شو، سحر ئې ماته ووې چې بچیه زۀ به ورزش کوم او تۀ یو دوه کپه تودې اوبۀ په چائے ناک کښې راوړه خو دَ پاسه پرې ځۀ کېده چې اوبۀ سړې نۀ شي. دَ ورزش نه پس به ئې زۀ ځنم، بابا په ناسته کټ کښې ورزش شروع کړو تر دې چې خوله پرې راغله چې ورزش ئې بس کړو نو ماته ئې اواز وکړو زۀ چې راغلم نو ماته ئې وې دا

توليه راکړه،ما په توليه دَ هغهٔ خولې وچول غوښتل خو زهٔ ئې پرې نهٔ ښودم، وې چې کوم کار زهٔ په خپله کولے شم هغه به تهٔ نهٔ کوې، بيا ئې ماته وې چې زما شاته يو دوه بالښتونه کېږده او دا اوبهٔ راکړه. دغه اوبهٔ ئې وڅښلې. دا دَ جون مياشت وه ما ورته پکے لګول غوښتل خو هغهٔ وې چې نهٔ پکے مهٔ لګوه، زهٔ ګرم يم، ما ورنه پوښتنه وکړه چې بابا ناشته کښې به څهٔ خورئ، هغهٔ وې چې يو دَ جوارو نرے ککوړے پوخ کړه او دوه هګۍ. ککوړے کړه خو زيړ ترې نه لرې کړه، خو دا ياد ساته چې دَ غرمې ډوډۍ به نهٔ خورو. مونږ چې خبرې کولې نو دغه وخت زما سپي غپ وکړو، بابا وې سليم خانه سپے ساتې، ما وې هو بابا سپي ساتل مې خوښ وي. دَ دې نه پس بابا ووې سليم خانه چرته په دې خبره دې سوچ کړے دے چې دا سپے دومره نجس ولې دے، خُلهٔ ئې هم پليته ده او جامې هم چې ورسره ولګي نو مونځ پرې نهٔ کېږي، حالانکې دا سپے دومره وفادار دے چې کهٔ تهٔ ورله ډوډۍ نهٔ هم ورکوې نو بيا هم دلته ستا دېره کښې به پروت وي. ما وې بابا ما خو چرې په دې خبره سوچ نهٔ دے کړے، بابا مُسکے شو وې عجيبه سړے ئې سپي ساتې او سوچ پرې نهٔ کوې. بيا ئې ووې چې تهٔ دې سپي ته پام وکړه کهٔ دے ډېر هم بوډا شي، تر دې چې دَ پاښډو جوګه نهٔ وي خو چې کله بل سپے راشي نو دے به ورپسې اورمرو غاپي او دا ځکه چې دے دَ خپل قام دښمن دے، ځکه نو نجس هم دے.

سليم خان يوه بله واقعه داسې بيانوي چې په کال ۱۹۸۵ء کښې زهٔ دَ تپې صدر وم، بابا چې دَ کالاباغ ډېم خلاف دَ تحريک په لړ کښې صوابۍ ته راغے نو زهٔ ئې ډرائيور وم، دَ فردوس خان کاکا په دېره کښې زمونږ جلسه وه، ما ښهٔ دَ جوش نه ډک تقرير وکړو او دا مې ووې چې اے پنجابيانو کهٔ تاسو کالاباغ ډېم جوړ کړو نو دا به دَ اوبو ډنډ نهٔ وي دا به دَ وينو ډنډ وي. خلقو ډېر لاسونه وپړقول. زهٔ هم ډېر ښادمند وم چې ګوندې ډېر ښهٔ تقرير مې وکړو خو چې کله بابا سره کښېناستم نو راته ئې ورو غوندې ووې صدر صيب ډېرې خرابې او غېر سياسي خبرې دې وکړې، زمونږ لار دَ تشدد لاره نهٔ ده، مونږ خو دَ عدم تشدد خبره کوو، په مينه او وروروليۍ به ترې خپل حق غواړو او دَ بابا دې خبرې زما دَ تقرير ټول ټون بدل کړو.

دا او دا قسمه بلا ژوندي واقعات او سپېڅلي کردارونه دَ صوابۍ، چارسدې، مردان او پېښور په خاوره تاريخ ليدلي دي خو سوال دا پېدا کېږي چې دا دومره مضبوط او پوهه کردارونه څنګه او چا تيار کړل، نو دَ دې خبرې يو ساده جواب دا دے چې دَ دغه مثالي کردارونو او دَ دوي دَ پُرمغزه خبرو شاته يو داسې کردار ؤ چې هم مخفي ؤ، هم باعمله، هم رښتونے او هم دَ زمانې په نبض پوهه ؤ. هغهٔ چې څهٔ وئيل هغه ئې کول او دَ خپلو ملګرو ئې سياسي تربيت هم کولو. دوي ئې پوهه کړي هم وو او تيار کړي هم ځکه نن هم کهٔ چرته څوک خدائي خدمتګار ژوندے وي نو هغه په کروړونو هم نهٔ خرڅېږي،ما ګڼ خدائي خدمتګار ليدلي دي، انساني کمزورۍ په خپل ځائے خو دَ قامي سياست او سماجي ژوند په حقله دَ هغوي روښان فکري او پوهه دَ ډېرو لويو لويو ډګري يافته خلقو نه زياته وه. دَ غلطو رسمونو نه به ئې انکار هم کوو خو دَ خپل روايت دَ ساهو اړخونو امانتدار هم وو او دا هر څهٔ دوي دَ خپل بابا نه زده کړي وو څوک چې دَ امن او مينې بابا ؤ.